# د کمال خان بند سیاسي او اقتصادي ارزښت او د افغانستان د اوبو دمهار ګټې

پوهنیار فیاض ګل مظلوم یار د ننګرهار پوهنتون استاد[1]


## لنډیز

د کمال خان بند د هلمند د سیند له پاسه د نیمروز ولایت مرکز زرنج ښار په ۹۵ کیلومترئ د چهار برجک ولسوالۍ کې موقعیت لري، جوړ شوی. ددغه بند د جوړېدو اصلي موخه د موسمي خطرناکو سیلابونو کنترول، د کرهنیزو ځمکو خړوبول او په ټوله کې دافغانستان اوبو مهارول دي. دغه بند دځمکو د خړوبولو ترڅنګ به یوه څلور دوربینه د برېښنا دستګاه هم ولري. د یادې علمي مقالې څخه اساسي موخه د افغانستان د اوبو مهارولو ګټې او د کمال خان بند جوړېدو سیاسي، فرهنګي او ټولنیزو ښېګڼو بیانول دي. په دې څېړنه کې د افغانستان د اوبو مدیریت، د اوبو کچه، د کمال خان بند تاریخي مخینه او تسمې وجه، د کمال خان بند جغرافیايي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ارزښت او همدا شان د افغانستان د اوبو مدیریت په اړه د ګاونډیو اندیښنو ته اشاره شوې. دا چې د کمال خان بند یوه ملي پروژه ده نو د څېړنې اصلي سوال دادی چې یاده پروژه به د افغانستان لپاره کوم فرصتونه رامنځ کړي. د یادې علمي مقالې لیکنه کتابتوني بڼه لري. د ددې علمې مقالې موندنې ښایي چې د کمال خان بند د رغیدو په واسطه به افغانستان وکولی شي، خپلې اوبه مهار او کنترول، د بیکارۍ کچې ټیټوالی، د برېښنا دستګاه جوړېدل، د ځمکو خړوبول، د اوبو څخه د سیاسي فشار په توګه ګټه اخستنه، د سیمې ښیرازي او ولسونو ته د څښاک پاکې اوبه رامنځ ته کول دي.


**کلیدي کلیمې: کمال خان، هایدروپولیتیک، د اوبو مدیریت، اقتصاد، سیاست، امنیت**

## سریزه

افغانستان د نړۍ هغه هېواد دی چې ټول سیندونه یې له خپلې خاورې سرچینه اخلي، خو اوبه یې تر ډېره بریده نورو هیوادونو ته ځي. لکه څنګه چې کشمیر د خپلو اوبو د سرچینو په موخه د جګړې او کشمکش میدان دی، همداسې افغانستان د څو لسیزو کشمکشونو یو سبب همدا اوبه دي. څېړنې ښیئ چې په افغانستان کې نظر د اوبو نورو سرچینو ته له سیندونو او کانالونو ډیره ګټه پورته کیږي. په ټول هېواد کې ۱۳۰ لوی او واړه سیندونه شتون لري چې له دې جملې ۴۳ یې لوی دي. د افغانستان ټول سیندونه په پینځو برخو ویشل شوي دي. د ارقامو له مخې داوبو لګولو د سیستم ۸٤ سلنه سیندونه او کانالونه، ۸ سلنه چینې ۷ سلنه کاریزونو او ۱ سلنه څاګانې جوړوي. د افغانستان د اوبو زیرمې سیندونه (امو سیند، کوکچې، واخان، بدخشان، کندز، تاشقرغان، بلخ اب، اندخوی، قیصار، کابل، کنړ، الینګار، الیشنګ، پنجشیر، لوګر، [illegible] ارغنداب، [illegible] غوربند، کرم، خمکنیو، ترنک، ګومل، لورا، هاورت، تاشرود، [illegible] موسی قلعه، شیرین تګاب، میمنې، [illegible] فراه رود، سرپل، بامیانو، جنوبي سالنګ، خان اباد، ترنګ، شکردرې، سره رود، پنج او فرخار سیندونه) او ولاړې اوبه یا جهیلونه (زرقول، چقمقتین، شیوا، سیستان، کود زره، ناور، غزني ) جوړ وي. د افغانستان ولاړې اوبه ډیرې په مرکزي، غرنیو سیمو او په لویدیزو دښتو کې شتون لري. دافغانستان داوبو سرچینې او اوبه اخستونکې حوزې دهندوکش لړۍ او دهغه لوړې څوکې جوړوي په تیره بیا هغه تلپاتې واورې چې دواخان، پامیر، ختیز او لویدیز هندوکش او د بابا په غره باندې کلونه کلونه پرتې وي، د پسرلي او اوړي په موسم کې ویلي کیږي او بیلا بیلو برخو کې

[1] fmazloumyar@gmail.com

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهیري. په ټول هېواد کې د سيندنو د اوبو جريان تيز دی چې هر کال ګڼ شمير زيانونه هم هيوادوالو ته اړه وي. د هېواد له اوبو څخه د برېښنا د توليد په برخه کې په لومړي ځل د امير حبيب الله خان په وخت کې ګټه واخيستل شوه.

کمال خان بند په هرات کې د سلما بند، فراه کې د بخش اباد بند تر څنګ د افغانستان په لويديز کې د اوبو تر ټولو ستر بند بلل کېږي. دا بند پر هلمند سيند جوړېږي چې د کابل له غرونو سرچينه اخلي او د افغانستان او ايران ترمنځ د هامون په نوم ګډ ډنډ يا جهيل ته تويېږي. کمال خان بند له ۷ ميګاه واټو تر ۹ ميګاه واټه برېښنا توليدولی شي. د کمال خان بند ډېره ساحه دښتې نيولې. دا بند ۱۶متره لوړوالی او د ۵۲ ميليونه متره مکعب اوبو ذخيره کولو ظرفيت لري او شا اوخوا ۱۸۰ زره هکتاره ځمکه خړوبوي.

ددې بند جوړولو چارې  په دريو مرحلو کې تر سرې شوې چې لومړۍ مرحله په ۱۳۹۱ لمريز کال، دوهمه مرحله يې په ۱۳۹٤ لمريز کال کې بشپړه شوه خو مهمه او حياتي برخه دريمه وه چې د افغان حکومت  د اوبو د مهارولو د ځانګړي ليدلوري پر اساس ۱۳۹۹ لمريز کال د افغان دولت د پراختيايي بوديجې څخه د ۷۸ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت بشپړه شوه. دا بند د افغانستان  پنځه زر کلن تاريخ تر لس زره کلن پورې رسوي او نړۍ ته د افغانستان د لرغوني تمدن ښکارندوي کوي. کمال خان بند له بشپړېدو وروسته به د افغانستان ۲۷۸۸ ميليونه متر مکعبه اوبه مهار کړي. ۵۵ ميليونه متر مکعب اوبه ذخيره کوي، ۱۷۴ زره هکتاره کرنيزه ځمکه به خړوبه کړي او د ۹ مېګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت به ولري.

د څېړنې موخې

د افغانستان لپاره د اوبو د مهار کولو ګټو پيژندل

د کمال خان بند سياسي، ټولنيز او اقتصادي ارزښت روښانه کول

د څېړنې پوښتنې

د افغانستان د اوبو مديريت د هېواد لپاره کوم فرصتونه رامنځ کوي؟

د کمال خان بند د جوړيدو ارزښت څه شی دی؟

د څېړنې کړنلاره: په دغه څېړنه کې له تحليلي روش څخه کار اخستل شوی دی، د موضوع د څرنګوالي په نظر کې نيولو سره د څېړنې کړنلاره کتابتوني بڼه لري چې د مختلفو کتابونو، مقالو او دانټرنيټ له سايټونو څخه په کې ګټه اخستل شوې ده. د څېړنې لاسته راوړنې په توصيفي او تحليلي بڼه بيان شوي دي.

د څېړنې محدوديتونه: په دې څېړنه کې پر ملي ژبو دمعتبرو کتابونو، رسالو اومقالو نه شتون، دسيمې څخه عملي ليدنه، دوخت کموالی او ترټولو يې داده چې افغان حکومت د اوبو اړوند مسايل اومواد محرم بولي اوپه دې اړه داړوندو دولتي ادارو نه همکاري هغه ستونزې وې چې څېړنه يې يوڅه کم رنګه کړې ده.

د څېړنې ارزښت: د افغانستان اوبه او د هغې مهارول د ټولو افغانانو ګډ ميراث او يوه ملي موضوع ده، نو د کمال خان بند او ورته بندونو په ارزښت پوهيدل له هېواد والو سره دا مرسته کوي، تر څو د شخصي فکر څخه د ملي فکر پر لور خپل ليدلوري ته بدلون ورکړي، ددې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د کمال خان ملي بند په اړه هر اړخيزه معلومات لوستونکو ته وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د افغانستان د اوبو مدیریت اړتیا او ګټې**

**اوبه هغه حیاتي منبع ده، چې انسانان یې په نه شتون کې ژوند نه شي تیرولی. په نړیواله کچه د تیلو او نورو سون توکو څخه د اوبو ارزښت او قیمت لوړ دی. تیل او ګاز بدیل لري، خو اوبه بدیل نه لري، په خلیج او عربي هېوادونو کې د نفتي توکو پر نسبت د اوبو قیمت لوړ دی. په نړی کې د څښاک وړ او خوږو اوبو زیرمې کمې دي مګر افغانستان د خوږو اوبو پراخه زیرمې لري خو د نه مدیریت له امله ګاونډیو هېوادونو ته په وړیا ډول بهیږي. تقریبا د افغانستان ۶۰ سلنه وګړي د څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري. افغانستان کابو ۸ میلیون هکتاره د کرنې وړ ځمکه لري، چې اوسمهال نیمایي برخه یې په سنتي او لرغوني شکل کرل کیږي. پاتې نوره ځمکه شاړه ده او اصلي لامل یې د اوبو نشتوالی ښودل شوی دی، په داسې حال کې چې د اوبو او برېښنا وزارت شمېرو له مخې افغانستان کابو ۷۵میلیارد متر مکعبه د اوبو زیرمې لري، چې ۷۰ سلنه یې ګاونډیو هېوادونو او پاتې ۳۰ سلنه یې د هېواد په داخل کې ترې ګټه اخیستل کیږي.**

**په نړیواله کچه د اوبو في متر مکعب قیمت تر ۲ ډالرو ټاکل شوی دی. ایران خپلې اوبه د نل لیکې له لارې په عراق پلوري. خو په مقابل کې بیا د افغانستان د هلمند سیند اوبه چې ارزښت یې میلیاردونو ډالرو ته رسیږي، په وړیا ډول ترلاسه کوي. که چیرې افغانستان خپلې في متر مکعب اوبه په یو ډالر پر ګاونډیو وپلوري، نو د کال به ۵۰ میلیارده ډالر عاید د اوبو پلورلو څخه ترلاسه کړي. همدارنګه که د افغانستان پر اوبو بندونه جوړ شي، د ۲۲ میلیون کیلو واټه في ساعت د برېښنا تولید ظرفیت لري. د افغانستان پر سیندونو د بندونو جوړولو سره هم اوبه مدیریت شي او همدارنګه د هېواد داخل کې به د برېښنا تولید ظرفیت لوړ شي.** که چېرته د افغانستان اوبه په ښه شکل مدیریت او کنټرول شي نو د نورو هېوادونو له اړتیا به خلاص شي، په ټوله کې ویلی شو که چېرته د هېواد اوبه مهار شي نوافغانستان به له یادو ستونزو څخه بې غمه شي. د اوبو په مهارولو سره افغانستان کولی شي د هېواد مختلفو سیمو ته د نهرونو او ویالو په کیندلو سره ټولې هغه زراعتي ځمکې چې تراوسه بې ګټې پاتې دي، ګټه واخلي. که د شمال او سویل لویدیز ډاګونه او دښتې ابادې شې نو افغانستان به د زراعتي تولیداتو له مخې خودکفا شي. د کور دننه اړتیاوو سر بېره به وکولای شي نړیوال بازار ته د وچوو مېوو ترڅنګ تازه مېوې او سبزیجات هم صادر کړي https://arzakht.com/posts/٦٢.

**کولی شو ووایو چې افغانستان د اوبو په مهار کولو او سم مدیریت سره لاندې لاسته راوړنې لرلی شي:**

- د افغانستان د اوبو په مهار کولو ټولټال د ۵۴۵ بندونو د جوړیدو امکان شته.
- افغانستان به کافي بریښنا ولري.
- د بریښنا له انرژي څخه نه یوازې د روښنایي لپاره ګټه اخیستل کیږي، بلکې د ټولنې د ژوندانه د هوساینې، اقتصادي ودې، تخنیک، د بریښنایي وسایلو روښانول، د واټر پمپونو په واسطه د اوبو راویستلو، دکور روښانولو، یخچالونو، ټلیفون چارجولو، تلویزیون، کمپیوټر او انټرنیټ، صنعت، ساینسي، نظامي وګړنیز او ټولنیز پرمختګ کې ګټه اخیستل کیږي.
- افغانستان به سویلي اسیا هېوادونو ته بریښنا صادره کړي.
- د هېواد پیسې په ثبات پیداکړي.
- افغانستان به میلیونونه بهرني اسعار ترلاسه کړي.
- له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د ویش پر سر په تړونونو کې باید د ګاونډیو هېوادونو د زیاتو اوبو په تړاو له دوی څخه پیسې وغوښتل شي.
- د کرنې په برخه کې به هغه ځمکې چې شاړې دي، د کښت وړ وګرځي.
- خصوصي سکتور به هڅه وکړي چې په دې برخه کې پانګونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- بهرني اسعار ترلاسه کيږي، بربښنا، حيوانات، کرنه ، سوداګرۍ به پراختيا وکړي. د ترانزيت ستونزه حليږي، صادرات ډيريږي، زرګونه خلکو ته کار پيداکيږي.
- د سوداګريز بيلانس کسر به ورسره لمنځه لاړ شي.
- افغانستان به ټول عمر د ټرانزيټ له ستونزې خلاص شي، هېواد به له نژدې اوغوره لارو څخه ګټه پورته کړي(نيازی،۱۳۹۷: ٦٦).

### د افغانستان د اوبو اندازه

افغانستان په کال کې پنځه اويا (۷۵) ميليارده متره معکبه اوبه لري، چې له دې جملې څخه يې اوه پنځوس (۵۷ ) ميليارده متره معکبه اوبه د ځمکې پر سر او نورې اته لس (۱۸) ميلياړده يې تر ځمکې لاندې دي. له نېکه مرغه د افغانستان د اوبو نوي (۹۰) سلنې پورته ټولې خوږې اوبه دي، د خوږو اوبو د مقدار له پلوه کيدی شي افغانستان په نړۍ کې ساری ونه لري. د افغانستان د ځمکې د سطحې له ټولو اوبو يوازې شل ميليارده (۲۰) متره معکبه اوبو څخه په هېواد کې ګټه پورته کېږي او نورې اوه دېرش (۳۷) ميليارده متره معکبه اوبه په وړيا ډول د ګاونډيو هېوادونو ته ځي. د افغانستان کرنيز سکتور په هره ثانيه کې ۱۱۰۰ متره معکب اوبه لګول کيږي. په هېواد کې د هر نفر لپاره د اوبوکلنی لګښت د يو څخه تر دوه زره متره معکب اوبه په نظر کې نيول شوي دي. افغانستان خپلو ټولو اوبو څخه يوازې ديرش سلنه ګټه اخلي، دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان ۵,۳ ميليون هکتاره ځمکه د کښت وړ ده، خوا اوسمهال يوازې ۱,٦ ميليون هکتار څخه ګټه اخستل کيږي.

## د څېړنې موندنې

### د کمال خان بند تاريخي مخينه

د کمال خان بند رغيدنه د افغانستان لپاره حياتي موضوع ده. ياد بند تقريبا لس زره کلنه تاريخي مخينه لري چې د جوړېدو چارې يې د ګوډ تېمور تر وختونو پورې رسيږي. د کمال خان بند سيستانيانو سره د تيمور د جګړې په پايله کې ونړيد او تر ډېر وخته پورې همداسې نړيدلی پاتې شو. د ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال د ياد بند د رغولو لپاره مثبت ګامونه پورته شول چې پدې لړ کې کولی شو د وخت د صدراعظم محمد موسی شفيق د کړنو يادونه وکړو. محمد موسی شفيق د کمال خان بند د بيارغولو، د هېواد د اوبو د کنترول او ايران سره د يادو اوبو د شخړې او سياسي ترينګلتيا د حلولو لپاره د ايران د وخت لومړي وزير اميرعباس هويدا سره خبرې اترې پيل کړې. د خبرو په پايله کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو د وېش په هکله ۱۲ ماده يي هوکړه ليک لاسليک شو. د ياد هوکړه ليک د دويمې مادې پر اساس او د ۱۹۲۰ د بارسلونا کنوانسيون پر اساس ايران هېواد ته حق ورکړل شو چې کمال خان بند څخه په ثانيه کې ۲٦ متر مکعبه او په کال کې ۸۱۳ ميليون متر مکعبه اوبه ترلاسه کړي( کليوال،۲۰۱۷: ۱). خو د وخت تېرېدل او د بند جوړېدو ته نه پاملرنه د دې لامل شوه تر څو ايران د امضا شوي هوکړه ليک خلاف څو چنده او په کال کې شاوخوا ۱,۵ ميليارده متر مکعبه اوبه ترلاسه کړي. په ۱۳۴۵ لمريز کال د افغانستان لومړي ولسمشر سردار محمد داوود خان د واکمنۍ پر مهال د بند د بيارغونې او سروې چارې د دوهم ځل لپاره پيل شوې خو د ثور د کودتا او نورو سياسي عواملو له کبله نيمګړې پاتې شوې. په ۱۳۹۰ لمريز کال د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال د بند د بيارغونې اصلي کار په درې برخو کې پيل شو. د لومړۍ برخې د بيارغونې تړون د (تدس) په نامه تاجکستانۍ کمپنۍ سره وشو چې د لومړي پړاو چارې يې د ۱۰ ميليونو ډالرو په ارزښت د ۳٦۸۴ مترو په اوږدو د هلمند سيند ختيز ته د انحرافي دېوال جوړېدل ول، په ۱۳۹۳ لمريز کال کې بشپړ شو. ددې سترې او بنستيزې اقتصادي پروژې د دويم پړاو کار چې ۴۷۰۰ مترو په اوږدو ، ۱۳ متره لوړوالي او شپږ متره پلنوالي دېوال و، د هلمند سيند لويديز خواته د شاوخوا ۱۵ ميليونو ډالرو په ارزښت بشپړ شو. د بند د جوړېدو د دريم پړاو کار هم د ملي وحدت

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت له خوا د ۱۳۹۶ د ثور میاشت کې پرانستل شو. د بند دې برخې کې د ۲۰۰ مترو په اوږدوالی سره په پاخه ډول د سیند منځ کې د دېوال جوړېدل او د برېښنا د تولید د دستګاه لګول وو.

## دکمال خان بند د نوم د تسمیې وجه

کمال خان په نیمروز کې یو وطندوست او مبارز ځوان وو چې د تاریخي اسنادو له مخې شاوخوا ۷۰۰ کاله وړاندې په دې سیمه کې واکمن وه او په دې ځای کې یې په لومړنیو امکاناتو بند جوړ کړی و. تاریخ لیکونکی محمد اعظم سیستانی د یوه انګلیسي افسر ایوان سمیت د یادښتونو په استناد لیکلي:(( سردارکمال خان سنجرابي په چهار برجک کې میشت و او د آبادۍ او اوبو لګولو چارو ته یې ډېر ارزښت ورکاوه)). سیستانی وایي:(( په منځنیو پېړیو کې د هلمند پر سیند ډېر بندونه جوړ شوي وو چې پراخې ځمکې یې خړوبولې. دا بندونه د ګرشاسپ بند، د رستم بند، د حمزه بلواخان بند ، یک آب او سیستان په نومونو یاد شوي دي)). کمال خان سنجرابي د خپل ژوند پروخت د هلمند سیند د اوبو د کابو کولو په موخه د خپلو هڅو په لړ کې هلته د اوبو له پاره څو بندونه جوړ کړل، ترڅو د نیمروز حاصل خیزو ځمکو ته د هلمند له سیند څخه اوبه چمتو کړي. کمال خان توانیدلی و چې په خاورو او لرګیو سره د هلمند اوبو ته بند جوړ او لرغونی سیستان سمسور کړي. کله چې تیمور په دې سیمه یرغل وکړ کمال خان او ملګرو یې له مقاومت سره سره ژوند له لاسه ورکړ او د ده له خوا جوړ شوی بند هم ونړول شو. کمال خان د همدې بند په سیمه کې خاورو ته سپارل شوی و. په همدې خاطر دا بند د هغه نومیالي کمال خان سنجرابي په نوم نومول شوی.

## دکمال خان بند جغرافیایي موقعیت

د کمال خان بند د افغانستان په سویل لویدیزه حوزه نیمروز ولایت کې د هلمند پر سیند چې د زرنج ښار څخه ۹۵ km واټن لرې په چهار برجک ولسوالی کې موقعیت لري، چې د نیمروز حاصل خیزو ځمکو ته اوبه چمتو کوي. کمال خان بند په هرات کې د سلما بند، فراه کې د بخش اباد بند تر څنګ د افغانستان لویدیز کې د اوبو تر ټولو ستر بند بلل کېږي. دا بند پر هلمند سیند جوړ شوی چې د کابل له غرونو سرچینه اخلي او د افغانستان او ایران ترمنځ د هامون په نوم ګډ ډنډ یا جهیل ته تویېږي. کمال خان بند له ۷ میګاواټو تر ۹ میګاواټه برېښنا تولیدولی شي. د کمال خان بند ډېره ساحه دښتې نېولې. دا بند ۱۶متره لوړوالی او د ۵۲ میلیونه متره مکعب اوبو ذخیره کولو ظرفیت لري او شا اوخوا ۱۸۰ زره هکتاره ځمکه خړوبوي( مرکز پژوهش های توسعه و اینده نگری، ۱۳۹۷: ۱۶۷).



په نیمروز ولایت کې د کمال خان د اوبو بند

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کمال خان بند اقتصادي او سیاسي ارزښت

۱. د افغانستان د اوبو د کنترول او مدیریت: اوبو د مدیریت او کنترول لپاره تراوسه په افغانستان کې کوم بنسټیز کار ندی شوی. داچې نړۍ او په ځانګړې توګه د افغانستان ګاونډي هېوادونه د اوبو د کموالي، د وګړو د چټکې ودې او د چاپیریال د ککړتیا له ستر ناورین سره مخ دي، د افغانستان د اوبو مدیریت به د اقتصادي پرمختګ لپاره تر ټولو ستر ګام وي.

۲. لویه ستونزه چې په هېواد او په ځانګړې توګه په نیمروز کې شتون لري د موسمي سېلابونو شتون دی، ډیری وخت د ورښتونو په موسمونو کې د ډېرو ورښتونو له کبله د اوبو سطحه لوړیږي او د خطرناکو سیلابونو لامل ګرځي، چې یاد سیلابونه تل د خلکو لپاره ګڼ اقتصادي زیانونه رامنځ ته کوي. د کمال خان بند په بیارغېدو سره به د نیمروز ولایت او شا او خوا سیمو د سېلابونو زیانونو مخنیوی وشي(علیزاده،۱۳۹۸: ٦٧).

۳. دا بند د سېلابونو په کنټرول کې مهم رول لري. پخوا به چې کله سېلابونه یا ډېرې اوبه راتللې هغه به مستقیماً د ایران خاورې ته اوښتې. ددغه بند په جوړېدو افغانستان کولی شي چې دا اوبه د هېواد دننه خاوره کې زېرمه کړي او بیا وروسته چې څومره د هلمند معاهده ده د هغې په اساس ایران ته حقابه ورکړي(روڼ،۱۳۸۷: ۳۳).

٤. د بند د جوړېدو بل لوی ارزښت د ځمکې خړوبول دي. افغانستان یو کرنیز هېواد دی او د کرنې سکتور د ودې لپاره حیاتي موضوع د اوبو شتون او پر وخت رسول دي. د کمال خان بند په جوړېدو سره به د شته اوبو یوه برخه مدیریت او د بند شاوخوا، ۱۸۰۰۰۰ زره هکتاره ځمکه به خړوبه شي، چې دا کولی شي د نیمروز ولایت د کرنې په وده او د هېواد اقتصادي پرمختګ کې بنسټیز رول ولوبوي(خیرابی و دیګران،۱۳۹۷: ۷۸ـ۷۹). دا بند کولی شي نیمروز ته یو اساسي پرمختګ ورکړي. د نیمروز پراخې او شاړې دښتې خړوبې کړي او د کرنې په سکتور کې د لوی پانګونې باعث شي.

۵. د کمال خان بند په جوړیدو به افغانستان، ایران ته د هلمند معاهدې په اساس له حقابې څخه زیاتې اوبه ورکول به د مادیاتو په مقابل کې کیږي چې له دې لارې به افغانستان په زرګونه او میلیونونه ډالر عاید لاسته راوړي.

٦. د کمال خان بند جوړول به له ایران سره د متقابلو سیاسي او دیپلوماتیکو اړیکو په رغولو کې رغنده رول ولري.

۷. د کمال خان بند افغان دولت ته دا فرصت په لاس ورکوي چې ددې بند څخه د ایران په وړاندې د یوې سیاسي الې په توګه ګټه واخلي.

۸. د کمال خان بند په جوړېدو سره به له یوې خوا دا اوبه مهار او د اضافي اوبو د جریان مخنیوی وشي او له بلې خوا به د هلمند د اوبو معاهده چې محمد موسی شفیق له ایران سره امضأ کړې وه، یو ځل بیا را ژوندۍ او پلي شي(پیرامي، ۱۳۹۸: ۷۸).

۹. د کمال خان بند بل ارزښت یې د برېښنا د تولید مسئله ده، اوسمهال افغانستان د برېښنا له کبله یو اړ هېواد دی. افغانستان ۷۰ سلنه خپله د اړتیا وړ برېښنا له ګاونډیو هېوادونو په ځانګړې توګه له تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران څخه واردوي. له دې کبله د کال شاوخوا ۲۲۰ تر ۲۷۰ میلیونه ډالره له لاسه ورکوي. که چېرې د افغانستان د برېښنا له ټولو داخلي تولیدي سرچینو څخه ګټه پورته شي، کولی شي په ټولیزه توګه د کال ۱۲۲ زره مېګاواټه برېښنا تولید کړي. د برېښنا د تولیدي سرچینو له جملې څخه یو د کمال خان بند دی چې بیارغونې سره کولی شي ۸تر ۹ مېګاواټه برېښنا تولید کړي (خیرابی و دیګران،۱۳۹۷: ۷۸ـ۷۹).

۱۰. د کمال خان بند د هېواد د وګړو لپاره د کار او روزګار د زمینې برابرول دي. له بده مرغه افغانستان هم د نورو وروسته پاتې هېوادونو په څېر د بیکارۍ له ستر ناورین سره مخ دی. د هېواد د وګړو د وزګارتیا کچه تر ۴۰ سلنه پورې رسیږي. بیکاري کولی شي تر شا نورې ټولنیزې ستونزې وزېږوي. له بده مرغه په دا ورستیو کلونو کې د پرېمانه بهرنیو مرستو او پانګو په شتون کې هم د افغانستان دولت ونه شو کړای چې له دې طلایي چانس څخه ګټه پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱. د کمال خان بند جوړول کولی شي افغانانو ته د ځښاک د اوبو په برابرولو کې حیاتي رول ولوبوي. نیمروز یو ریګي (شګلن) ولایت دی او د افغانستان د هغو ولایتونو له جملې څخه دی چې ځاګانې یې تروشې اوبه لري چې د ځښاک او کرهنې لپاره مناسبې ندي. د زرنج او د ښار شاوخوا خلکو لپاره د اوبو اصلي سرچینه د هلمند سیند دی، ددې سیند پر سر د کمال خان بند جوړېدل به تر ډېره د ځښاک د اوبو په مهارولو او برابرولو کې مهم رول ولوبوي.

۱۲. د کمال خان بند په شان د نورو بنسټیزو پروژو پلي کول به وکړای شي په افغانستان کې د امنیت په راوستلو او د اقتصاد په پیاوړي کولو کې حیاتي رول ولوبوي او له دې سره به خلکو ته په سیده او نا سیده کاري فرصتونه رامنځ ته شي. د سړي سر عاید به لوړ شي. د وګړو فقر او غربت کچه به را ټیټه شي. د هېوادوالو د ژوند په کیفیت کې به ښه والی راشي او هېوادوال به مو د ښه ژوند خاوندان شي. بهرنیو هېوادونو ته غیر قانوني او له خطره ډک سفرونه به کم شي. د جرمونو په اندازه کې به کموالی راشي. په پای کې به د هېواد امنیت او تلپاتې سولې ته زمینه برابره شي او افغانستان کې سوله او ثبات د سیمې او نړۍ به سیاسي او اقتصادي ثبات کې حیاتي رول لوبولی شي(عبدی، ۲۰۲۰: ۲۰ـ۲۲).

## په ګاونډیو هېوادونو د افغانستان د اوبو دمدیریت اغیزې

افغانستان د اوبو په ګرداب کې راګیر هغه هېواد دی چې تر اوسه یې خپلو ګاونډیو هیوادونو سره د اوبه پر سر ستونزې حل شوي نه دي. یوازې د هلمند د سیند پر سر له ایران سره یو تړون لاسلیک شوی دی چې له مخې، ایران په هره ثانیه کې د ۱۷۶ متره مکعبه اوبو څخه یوازې د ۲۶ متره مکعبه اوبو د کارولو حق لري(کلیوال،۲۰۱۷: ۱). د ایران حق په یو کال کې شاوخوا ۸۲۰ میلیون متره مکعبه ته رسیږي. د شوي تړون پرخلاف چې په کې درې سیمې د اوبو د اخستلو لپاره ټاکل شوی وې، له ۳۰ تر ٤٠ سیمو څخه اوبه اخلي. ایران هڅه کوي تر څو له افغانستان څخه ډېرې اوبه تر لاسه کړي، ځکه داسې اټکل شوی چې ایران به تر ۲۰۲۵ کال پورې د اوبو له کمښت سره مخ شي په همدې حال په کال ۱۳۹۳ کې واشنګټن پوسټ راپور له مخې ایران د اوبو د کمښت له خطرناک حالت سره مخ دی. په ایران کې د اوبو د کمښت عوامل د نفوسو وده، نا ګټوره کرنه او د اوبو د ښه مدیریت نشتون ښودل شوی (احمدی،۱۳۹٦: ٦۷ـ ۹۹). پاکستان د اوبو د ځیرنې مرکز ویلي چې پاکستان به تر کال ۲۰۲۵ پورې د اوبو له قلت سره مخ شي. داسیا پراختیایي بانک د راپور پر بنسټ پاکستان په نړۍ کې د اوبو له کمښت څخه ډېر اغیزمن دی او په نژدې وخت کې به د هغه هیوادونو په قطار کې ودریږي چې د اوبو له کمښت سره مخ دي، نو ځکه پاکستان هم هڅه کوي چې د کنړ د سیند پر سر د بند جوړولو مخه ونیسي او پاکستان اقتصاد پوهان په دې نظر دي چې پاکستان اوبو ته پام ونکړي نو دا به دې ځان وژنې په مانا وي(عبدی،۲۰۲۰: ۲۳). په نړۍ کې د تودوخې په ډېرېدلو او نفوس زیاتېدلو سره د اوبو ستونزه پر ایران سربېره د نورو ډېرو ګاونډیانو لپاره هم خپلمنځي شخړې پیدا کولی شي. یواځې ایران نه دی چې د افغانستان سره د اوبو د وېش او مدیریت ستونزه لري بلکه ایران او پاکستان دواړه په تاریخي لحاظ د افغانستان د اوبو په سرچینو دعوې لري (سلطاني،۱۳۹۷: ۴۵). د دې ستونزو او جنجالونو مخینه دا ده چې دا هېوادونه پخپل منځ کې د نړیوالو قوانینو په رڼا کې د اوبو د وېش تړونونه او معاهدې نه لري پرته له یو تړون څخه چې په ۱۹۷۳ کال کې د ایران او افغانستان تر منځ لاسلیک شوی دی. ایران تر ننه په دې تړون عمل نه دی کړي او د تړون خلاف ۷۰ سلنه زیاتې اوبه ترلاسه کوي او د افغانستان له هوکړې پرته یې په دې اوبو زیربناوې او بندونه جوړ کړي دي. پاکستان هم په وار وار کوښښ کړی دی چې د افغانستان سره د اوبو په سر توافق ته ورسیږي او په دې اړه مذاکرات وکړي. په ۲۰۱۱ کال کې د پاکستان د اوبو او انرژۍ وزارت له امریکا او نړیوال بانک وغوښتل چې د افغانستان سره د اوبو په وېش کې د دواړو هېوادونو تر منځ مداخله وکړي خو دې کوښښونو بیا کومه پایله ورنه کړه. ایران او پاکستان دواړه د افغانستان د اوبو په سرچینو تکیه دي .https://dailyshahadat.com/articles/۱۹٤۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناقشه

د کمال خان د بند د جوړېدو په شان نورې بنسټيزې پروژې کولی شي د کاري فرصتونو په برابرولو، د بې روزگارۍ په را کمولو او له منځه وړلو کې ستر او د پام وړ رول ولوبوي. د کمال خان بند په جوړېدو سره به په زرهاوو افغانانو ته په مستقيمه او غير مستقيمه توگه د روزگار فرصت برابر شي. کاري ځواک به په کار وگمارل شي، عوايد به ترلاسه شي، ملي توليدات او ملي عوايد به لوړ شي، ناامني، جگړو او ټولنيزو ستونزو په کچه کې به د پام وړ کموالی راشي او د اقتصادي او ټولنيزې ودې او هوساينې لپاره به لار پرانستل شي.

د گاونډيو هېوادونو سره د اوبو پر سر سياسي شخړې، د اوبو مديريت برخه کې متخصص بشري ځواک نشتوالی، پر اوبو د بندونو جوړولو ظرفيت او مالي امکاناتو نشتوالي هغه ستونزې دي، چې افغانستان حکومت د خپلو اوبو مديريت کې پاتې راغلی دی. له بده مرغه افغانستان تراوسه له خپلو اوبو سرچينو څخه ډېره لږه گټه اخيستې، که افغانستان د اوبو او برېښنا بندونو ته پاملرنه کړې واى نن به پاکستان له افغانستان څخه برېښنا پيرله. کاسا به له افغانستانه سرچينه اخيستله، ټوټاپ په نامه به سوداگرې نه کيدله، په همدې ډول د سويلي اسيا د انرژې د کمښت تشه به افغانانو پوره کوله. افغانستان به په ميليونونو ډالر ترلاسه کول. د سيمې هېوادونه به افغانستان تر اقتصادي اغيز لاندې ول، بې وزلي او بيکاري به نه وه، د خلکو ژوندبه په لوړه کچه و، صنعت او کرنې به پرمختگ کړی وی. افغان حکومت ته پکار ده چې له گاونډيو هيوادونو سره د اوبو د ويش تړونونه وکړي. هغه گاونډيان چې د ويش څخه ډېرو اوبو ته اړتيا لري، بايد پيسې ترې واخستل شي. د اوبو د بندونو د جوړونې لپاره لاس په کار شي. هرکال افغانستان د برېښنا په مقابل کې گاونډيو هېوادونو ته د ۲۰۰ ميليونو ډالر ورکوي، دا راوگرځوي. هيڅ چاته په وړيا توگه اوبه ورنکړي ځکه د اوبو ارزښت ورځ تر بلې ډيريږي. هېواد بايد د اوبو پر سرچينو اباد شي او په راتلونکي کې د نړۍ په کچه د انرژۍ صادرونکی هېواد شي.

## پايله

کمال خان بند د هېواد د لويو بندونو په شان هغه لوی د اوبو گرځولو او کنترول بند دی چې د هلمند پر سيند د نيمروز ولايت سوېل ته د چهار برجک ولسوالۍ په ۱۸ کېلومترۍ کې پروت دی. د کمال خان بند ډېره ساحه دښتې نيولې دا بند ١٦متره لوړوالی او د ۵۲ ميليونه متره مکعب اوبو ذخيره کولو ظرفيت لري او شا اوخوا ۱۸۰ زره هکتاره ځمکه خړوبوي.

دا بند لس زره کلن تاريخ لري چې د جوړېدو چارې يې د تېمور لنگ د وختونو پورې تړل کيږي چې د سيستانيانو سره د تيمور د جگړې په پايله کې دا بند ونړيد او تر ډېره وخته پورې همداسې نړيدلی پاتې شو. په کال ۱۳۴۵ د افغانستان د جمهور رئيس سردار محمد داوود خان د واکمنۍ پر مهال د بند د بيارغونې او سروې چارې پيل شوې خو د ثور د کودتا او نورو سياسي عواملو له کبله نيمگړې پاتې شوې. په ۱۳۹۰ لمريز کال د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال د بند د بيا رغونې اصلي کار په درې برخو کې پيل شو. د لومړۍ برخې د بيارغونې تړون د (تدس) په نامه تاجکستانۍ کمپنۍ سره وشو چې د لومړي پړاو چارې يې د ۱۰ ميليونو ډالرو په ارزښت د ۳۶۸۴ مترو په اوږدو د هلمند سيند ختيز ته د انحرافي دېوال جوړېدل ول چې په ۱۳۹۳ لمريز کال کې بشپړ شو. د دې سترې او بنسټيزې اقتصادي پروژې د دويم پړاو کار چې ۴۷۰۰ مترو په اوږدو او ۱۳ متره لوړوالي او شپږ متره پلنوالي دېوال و، د هلمند سيند لويديز خواته د شاوخوا ۱۵ ميليونو ډالرو به ارزښت بشپړ شو د بند د جوړېدو د دريم پړاو کار هم د ملي وحدت حکومت خوا د ۱۳۹۶ د ثور مياشت کې پرانستل شو، د بند دې برخې کې به د ۲۰۰ مترو په اوږدوالی سره په پاخه ډول د سيند منځ کې د دېوال جوړېدل او د برېښنا د توليد د دستگاه لگول دي.

## وړانديزونه

د کمال خان بند يوه ملي پروژه ده چې د يادې پروژې په ښېگڼو او زيانونو کې ټول ملت شريک دی، په همدې اساس د يادې علمي مقالې د ليکلو وروسته په لاندې برخو کې وړانديزونه لازم بولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. حکومتي چارواکو ته مې دا وړاندیز دی چې د کمال خان، سلما، پاشدان او څو داسې نورو بنسټيزو پروژو څخه د خپلو نورو بې کفایتیو او غلاوو د پټونې لپاره ناوړه سیاسي ګټه پورته نه کړي.
۲. طالبانو ته مې دا وړاندیز دی چې باید له حکومت سره د یو ګډ میکانیزم له لارې د داسې ملي پروژو امنیت ونیسي.
۳. د ټولو هېوادوالو څخه هیله کوو چې د داسې ملي پرژو په باب باید ګډ دریځ او ملي اجماع ولري.
٤. د هلمند اوبو د ویش مسئله یوه سرحدي موضوع ده، سیاسي باید نه شي، ځکه ددې موضوع سیاسي کول د دواړو خواوو په زیان دی.
۵. دهلمند سیند منابعو مدیریت په اړه د ګاونډي هېواد ګډه پانګونه حیاتي رول لوبولی شي او په دې برخه کې باید هڅه وشي چې د خړوبولو نوی سیستم ته پراختیا، د وچکالۍ لپاره داوبو ذخیره کول او سیلابونو کنترول مخنیوی تر سره شي.

## ماخذونه


۱. احمدی، علی.(۱۳۹٦). ایران در جستجوی آب. کابل: انتشارات مستقبل.
۲. ارغنداوي، عبدالعلي.(۲۰۱۷). په تیرو نهو لسیزو کې د افغانستان تاریخ. پېښور: پبلک ارټ پریس
۳. پیرامي،محمد کریم.(۱۳۹۸). سازه های ابی. تهران: انتشارات کافه مهندسی.
٤. خیرابي،جمشید.(۱۳۹۷). مدیریت آب در مزرعه. ایران: کمیته ملی ابیاری و زهکشی ایران.
۵. روټ،باب.(۱۳۸۷). د اوبو مدیریت، مالداري او دترياكو اقتصاد.ژباړن: امان الله اتل.كابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره.
٦. سلطاني،احسان.(۱۳۹۷). بحران اب در ایران. کابل: خراسان خپرندویه ټولنه.
۷. عبدی،عطاالله.(۲۰۲۰).د افغانستان هایدروپولیتیک او نوې هېلې. پېښور: هیله خپرندویه ټولنه.
۸. علیزاده،امین.(۱۳۹۷).هیدرولوژی. تهران: انتشارات سمت.
۹. کلیوال،سلطان جان.(۲۰۱۷). د افغانستان اوبه د افغانستان سره د دښمنی ستر لامل. اریانا افغانستان انلاین.
۱۰. محبت،احمد علي.(۱۳۹۸). هلمند په هنداره کې. هلمند: میوند خپرندویه ټولنه.
۱۱. مرکز پژوهش های توسعه و اینده نگری.(۱۳۹۷). بر رسی تاثیرات برنامه های تنظیم آب کشورهای همسایه در حوضه های مشترکی مرزی بر ایران. گروه اینده نگری آب، محیط زیست و منابع طبیعی.
۱۲. مرکز پژوهش های توسعه و آینده نگری سازمان برنامه و بودجه کشور ۱۴۰۰ بحران آب و امکان سنجی اتصال - پهنه های آبی شمال و جنوب کشور
۱۳. الن رو او لورین فلمنګ.(۱۳۸۸). د اوبو مدیریت، مالداري او دترياكو اقتصاد.ژباړن: ماري شیرزاد.كابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره.
۱٤. نیازی، محمد داود.(۱۳۹۷). د افغانستان اوبه.کابل: سوله خپرندویه ټولنه.
۱۵. یوناما.(۲۰۱٦). د اوبو حقوق. کابل: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د مرستې ماموریت یوناما.
۱۲. Qureshi, Asad Sarwar. (۲۰۰۲) Water Resources Management in Afghanistan: The Issues and Options." International Water Management Institute (IWMI), Working Paper ٤٩, Pakistan Country Series No. ١٤.
۱۷. Food and Agricultural Organization (FAO). (۲۰۱٤) AQUASTAT data, and World Bank and OECD GDP Estimates. www.indexmundi.com. [Accessed ۲٦th September ۲۰۱۸).
۱۸. Value of Water Campaign. (۲۰۱۷) The Economic Benefits of Investing in Water Infrastructure. Available from: www.thevalueofwater.org [Accessed ۲۵th September ۲۰۱۸]

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**